safar

# د عیسی سره شریکول

## د شاهدۍ لارې

### د پیل ټکی

ایا هغه شیبې روحاني وسلې په یاد لرئ؟
د خدای دې روحاني وسلو څنګه په تېرو څو ورځو کې ستاسو ساتنه کړې ده؟

### بحث او خبرې

د ژوند په دې سفر کې، داسې وخت شته کله چې د عیسی په هکله د نورو سره خبرې کوو، له نا امیدۍ، زړه سوړوالي او مخالفت سره مخامخ کېږو.
خو سره له دې، د خدای روحاني وسله مونږ ته دا توان راکوي چې وکولای شو دې لارې ته دوام ورکړو. حتی ګورو چې پولس په افسسیان ۶: ۱۸-۲۰ کې غواړي چې د هغه دپاره دعا وکړي، تر څو وکولای شي په زړورتیا سره د عیسی په هکله خپلو خبرو ته دوام ورکړي.

- ایا تراوسه تاسو ته داسې پېښ شوي دي چې کله په مسیح باندې د خپل ایمان په هکله خبرې کوئ، د نه منلو سره مخامخ شوي یئ؟ که داسې وي، تاسو دا څنګه اداره کړې؟
- د نورو سره د عیسی مسیح په هکله له خبرې کولو نه مو څه زده کړل؟
- د چا دپاره پرله پسې دعا کوئ؟

### په کلام باندې تعمق او غور

د انجیل د اعلانولو دپاره مونږ سره ډېر فرصتونه شته. حتی په غیر دوستانه چاپېریال کې، خدای زمونږ دپاره نوې دروازې پرانیزي.

مونږ ته بلنه راکړل شوې ده چې په خپل زړه کې هغه امېد چې د عیسی مسیح په هکله لرو، باید د نورو سره یې شریک کړو. (اول پطرس ۳: ۱۵)

راځئ چې هغه درې برخې وګورو چې دا ښیي چې څنګه د انجیل خپرېدو لپاره مختلف فرصتونه خلاص شوي:

- د رسولانو عملونه ۳: ۱-۸
- د رسولانو عملونه ۸: ۱-۸
- د رسولانو عملونه ۸: ۲۶-۴۰

دغو پورتنیو هر یو پیغامونو دپاره، لاندې شیان په دقت سره په پام کې ونیسئ:

- د نجیل د بشارت دپاره د هر نوي فرصت د پیل لمبه څه ده؟
- په پورتني هر یو داستان کې د لازیاتو فرصتونو د کارولو دپاره مشران کوم کارونه باید سرته ورسوي؟
- پنځه شیان لنډیز کړئ چې مونږ یې د شاهد په توګه تقلید کولای شو.

د سپېڅلي کتاب څخه نور کوم داستانونه ستاسو په فکر کې شته چې د انجیل د پراخېدو مختلفې طریقې وښیي؟

### اصلي مفکوره

هغه فرصتونه چې مونږ کولای شو د عیسی په هکله بشارت ورکړو زمونږ په شا او خوا کې تل شته. مونږ غواړو د خپل توان سره سم د هغوی په لیدلو او کارولو سره وده وکړو.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

د عیسی په هکله د شهادت ورکولو مختلفې لارې:

1. **د هغه کس سره چې تاسو یې له پخواه پېژنئ، د عیسی په هکله خبرې وکړئ.**

ایا همدا اوس هغه کس ته چې اړتیا لرئ او د هغه سره باید د عسی په هکله خبرې وکړئ، ستاسو په ذهن کې شته؟

1. **د نوي کسانو دپاره چې خدای ستاسو په ژوند کې راوستي دي، بشارت وکړئ.** ایا نوی کس ستاسو په ژوند کې شته چې خدای له تاسو وغواړي انجیل د هغوی سره شریک کړئ؟
2. **د ځانګړو اړتیاوو دپاره دعا وکړئ.** ایا کوم کس ستاسو په ذهن کې شته چې یوې معجزې او یا د یوې دعا ځواب ته اړتیا ولري؟
3. **نورو ته خدمت وکړئ.** ایا داسې یو کس پېژنئ چې له هغه سره په مرسته کولوو، په عملي توګه د عیسی مینه هغه ته وښیئ؟
4. **د خدای کلام خلکو ته ورکړئ.** چا ته کولای شئ سپیڅلی کتاب د تحفې په ډول ورکړئ؟
5. **د ټولنیزو شبکو څخه استفاده وکړئ.** ایا د یو ایت په شریکولو، شهادت او یا یو فلم سره کولای شئ د خلکو سره د عیسی مسیح په زده کولو کې مرسته وکړئ؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

- اول تسالونیکیان ۲: ۱-۲ ولولئ.
- له خدایه د دې حقیقت دپاره شکر ګزاري وکړئ چې ستا سو شاهدي بې_ګټې نه ده.
- دعا وکړئ، چې خدای تاسو زړور کړي چې بشارت ورکولو ته دوام ورکړئ.
- یو لیست تیار کړئ او د ټولو هغو کسانو نومونه چې د درس ورکولو په وخت کې ستاسو ذهن ته راځي، په هغه کې یې ولیکئ.
- د هر یو د دغو کسانو دپاره په جلا توګه دعا وکړئ، له خدایه وغواړئ هغه مینه او اهمیت چې مونږ ته یې راکوي دغو هر یو کسانو ته یې ښکاره کړو.
- له خدایه وغواړئ چې تاسو ته یې وښیي څنګه د هغه شاهد اوسو. هغه فکرونه چې ستاسو ذهن ته راځي د یو بل سره یې شریک کړئ.
- لږ تر لږه یو کس د خپل لیست څخه وټاکئ، یو ځانګړې نقشه د انجیل د بشارت ورکولو په تړاو د هغوی دپاره تیار کړئ. د امکان په صورت کې، هغوی ته بشارت ورکړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- پیل یې کړئ. د یو کس سره د انجیل بشارت شریک کړئ.
- هره ورځ د هغو کسانو دپاره چې ستاسو په لیست کې لیکل شوي دي، دعا وکړئ.
- له خدایه وغواړئ چې تاسو دپاره نوي فرصتونه او روحاني لیدنې او کتنې چمتو کړئ، تر څو هغوی ته بشارت ورکړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved